د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د تصاويبو مديريت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ٦٢

نېټه: ۲۵/ ۱۲/ ۱۴۴۴ هـ ق
مصادف: ۲۲/ ۴/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هق چې د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې د څوارلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د ستري محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې شپږمه موضوع داسې وه: ((د ستري محکمې د عالي شورا د مجلس مورخ ۱۴۴٤/۱/۵هق د هدايت مطابق د بانکونو د تکتانې موضوع د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شوې وه، په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا داسې هدايت شوی وو: (د تېرې ادارې په وخت د بانکونو لخوا خلکو ته په سود ورکړل شوي قرضونو په باره کې دې د موضوعاتو صورتونه په تفصيلي ډول وليکل سي او د ستري محکمې د محترم مقام تر کتنې وروسته دې د استفتاء په شکل دواړه دارالافتاوو ته واستول شي.) د ياد هدايت مطابق د ستري محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست لخوا د موضوعاتو صورتونه ليکل شوي وو چې په تاريخ ۱۴۴٤/٤/۱۷هق د ستري محکمې د مقام د دفتر محترم رياست ته استول شوي دي تر څو د مشرتابه محترم عالي مقام ته واستول شي. اوس ځينې بانکونو والا محاکمو ته مراجعه کوي او وايي چې موږ د خپلو پيسو په بدل کې تکتانه نه غواړو يوازې خپلې پيسې غواړو، په اړه يې چې څرنګه ترتيب وشي؟))

د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د ستري محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(٤٥)مورخ ۱۴۴٤/۱۲/۱۷هق مصادف ۱۴۰۲/٤/۱٤هش د شپږمې پريکړې په اساس په لاندې ډول هدايت وکړ:

((د بانکونو دغه موضوعات چې: (تکتانه نه غواړي يوازې د خپل قرض پيسې د مقروض شخصه غواړي))، کله چې محاکمو ته راشي مربوطه محاکم دې په اړه خپل اصولي او شرعي اجراآت ترسره کړي.))

بناءً د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

Address: Public health Square ۹th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af